هيڅ څوک پر بل د بدکار او کفر تور نه لګوي، په داسې حال کې چې هسې نه وي مګر دا چې وينا يې بېرته پرې ورګرځي

له ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دی هغه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې ويېل يې: "هيڅ څوک پر بل د بدکار او کفر تور نه لګوي، په داسې حال کې چې هسې نه وي مګر دا چې وينا يې بېرته پرې ورګرځي".

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه چاته خبرداری ورکوي چې بل ته فاسق او يا کافر وايي، ځکه که چېرته يې هغه څه نه و چې ده ويلي، نو دی په خپله د همدې صفت مستحق دی او وينا يې پرې بېرته ورګرځي، خو که چېرته يې فسق او کفر و نو بيا يې پرې وينا نه ورګرځي؛ ځکه چې په خپله وينا کې ريښتينی دی.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/8883